سرلوخ مرادزی ۲۰۱۲ / ۱۰ / ۲۵

د ډیورند کرښې پریکړه به، لروبر افغانان خپله کوي

«د روان کال د اکتوبر په ۲۱مه، د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدو ایالاتو ځانګړي استازي مارک ګروسمن په کابل کې له یوه خصوصي تلویزیون سره په مرکه کې د ډیورنډ پر کرښې خبرې کړې وې. ګروسمن ویلي و چې واشنګټن د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ رسمي نړیواله پوله بولي. BBC »
د ګروسمن له څرګندونو روسته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د اکتوبر په ۲۲ مه، په یوه لیکلي پیغام کې د ډیورنډ کرښه افغانانو ته د تاریخي ارزښت وړ بللې ده. په انګریزي ژبه خپره شوې دغه خبرپاڼه زیاتوي چې « افغان حکومت په همدې دلیل د هر چا لخوا د دغې کرښې د مشروعیت په باب څرګندوني ردوي او هغه بې ځایه بولي. همغه زیرمه»
د افغانستان په ولسي او مشرانو جرګو کې د ګروسمن څرګندوني له کلک غبرګون سره مخامخ او په سختو ټکو سره وغندل شوې. د دې جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون یوې غړې ارین یون له ازادۍ راډیو سره په خبرو کې وویل « دا دوی شخصي نظر دی. دوی هېڅ حق نه لري چې د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله وکړي. حتی که حکومت یا نورې سیاسي حلقې وغواړي دا موضوع رامخې ته کړي؛ زه فکر کوم، د دوی صلاحیت نه دی، دا د افغانستان د ولسونو صلاحیت دی.»
خو د اکتوبر په ۲۱ ، ۲۲ او ۲۳ مه لا د ولسي او مشرانو جرګو ، افغان دولت او د بېلا بېلو سیاسي کړیو او ولسي مشرانو لخوا په دې اړه د غندنې بحث توند، وو چې د اکتوبر په ۲۳ مه، د سه شنبې په ورځ « د امریکا سفیر جېمز کنینګم کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کې د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدو ایالاتو د ځانګړي استازي مارک ګروسمن دهغو څرګندونو په اړه چې ویلي یې وو، هېواد یې ډیورنډ کرښه په رسمیت پېژني، زیاته کړه «دا څه نوې خبره نه ده، یوازې امریکا نه، بلکې یو شمېر نور هېوادونه هم ډیورنډ کرښه د پاکستان او افغانستان تر منځ د رسمي پولې په توګه پېژني. BBC»
په دې توګه په افغانستان کې د امریکا سفیر هم د ګروسمن پر بې مسولیته څرګندونو د تایید یوه بله بڼې ټېره کړه او هغه یې تایید کړه. اوس په دې خبره کې چې امریکا د ډیورند تپلي کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحد بولي، څه شک نه پاتیږي !
البته دا څه نوې خبره نه ده لکه څنګه چې کابل کې د امریکا سفیر وایي یو شمیر نور هیوادونه چې موخه یې انګریز او یا څو نور دولتونه دي، دا کرښه په رسمیت پېژني خو لکه څنګه چې سفیر خپله وایي دا هیوادونه یو شمېر دي، نه ټوله نړۍ !
بلخوا دا کرښه انګریز د پښتنو د یوې کورنۍ، یوه خپل او یوه قوم تر منځ کش کړې او هغه یې په دوه برخو سره ټوټې کړې چې له لومړۍ ورځې تر ننه ، یوه افغان نه ده منلې، نو که انګریز او د هغه نړدي اندیوالان یې نن بیا په منلو ټینګار کوي، څه نوي خبره نه ده !
په ۱۹۴۹ کال د جون په ۱۲مه پنجاب پر مغلګي بمونه وغورزول. پاکستان په دې دول د برتانوی هند نه وروسته دوهم حکومت شو چې افغانستان یې بمبار کړ او ددې په پایله کې د شاه محمود خان حکومت دې ته اړشو چې د رامنځته شویو نویو حالاتو سره د مخامختیا لپاره لویه جرګه راوغواړي. دا لویه جرګه د جولای په ۲۶ مه کابل کې جوړه شوه او له کوزو افغانانوسره یې خپل ملاتړ اعلان کړ . جرګې په عین حال کې په رسمی دول د ډیورند توافق لېک، د ۱۹۰۵ کال د افغان ـ انګلیس ټرون ، د ۱۹۱۹ کال د راولپنډۍ ټرون او د ۱۹۲۱ کال د افغان ـ انګلیس ټرون غیر قانونی او لغو شوې اعلام کړل او دا یې هم په رسمی دول څرګنده کړه هر ټرون چې د پښتنو (کوزو افغانانو) په اړه شوی وی با طل دی .
بڼه خبره دا شوه، چې دوی خپله د زړه او پټه خبره په ډاګه کړه او د شف شف پرځای افغانانو ته شفتالو ووایه. اوس دا په لروبرو افغانانو پورې اړه لري لکه څنګه چې یې پخوا دا کرښه نه ده منلې، په راتلونکي یې هم څوک په زور پرې نه شي منلای !
په ۰۵ / ۱۰ / ۲۰۱۲ نیټه ، « د امریکا غږ ډیوه راډیو د پریس کانفرنس په خپرونه کې د برخې اخیستو په وخت د عوامي نیشنل پارټۍ مشر اسفندیار ولي خان یو شمېر اوریدونکو دغې پوښتنې ته چې د پاکستان او افغانستان تر مینځ د ډیورنډ کرښه مني او که نه - ښاغلي اسفندیار ولي خان وویل په دغه اړه به د قام فیصله مني- د برلین دیوال غورځولو ته په اشاره کې هغه وؤیل چې هغه دیوال جرمن قوم مات کړی وو. لروبر بریښناپاڼه »

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ډیورند د تپلي کرښې پریکړه به لروبر افغانانان خپله کوي، دا د دوی ملي او دیموکراتیک حق دی او لکه څنګه چې په سیمه کې د انګریزي ښکیلاک په مهال یو افغان دا کرښه نه ده منلې، په ۲۱ پیړۍ کې چې د دیوالونو او کرښو د نړولو دوران دی ، دا کرښه په کوم دود ومني.
د ډېرو په اند، ویل کیدای شي چې امریکا داسې بې سرو پښو خبرې، د ترهګرو په ټکولو کې د پنجاب د راضي کولو لپاره، د یوې تحفې پټوګه کوي او هم غواړي د ډیورنډکرښې په اړه د افغانانو د غبرګون اندازه ولګوي. که امریکا داسي څرګندوني د خپلو ملي ګټو لپاره اړینې بولي، افغانان هم خپلې ملي ګټې لري او نه شي کولای د بل چا د ګټو لپاره له خپلو ملي ګټو تېر شي !
نن د اکتوبر په ۲۴ مه، د ولسمشر ویاند ښاغلي ایمل فیضي، د ډیورند کرښې په اړه، په کابل کې د امریکا د سفیر او د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د استازي څرګندونو ته په اشاره وویل چې دا څرګندوني د افغانانو او افغان دولت په ملي دریځ کوم اغیز نه ښندي.
امریکا او نور لویدیځوال افغانستان او سیمې ته یوازې د القاعده او نورو ترهګرو د ټکولو په پلمه چې ادې او مرکزونه یې په پاکستان کې دي، راغلي دي . د افغانستان او پاکستان تر منځ د سرحد د ټاکلو خبره چې افغانانو نه وي طرحه کړې، د ملګرو ملتو د امنیت شورا په هغه پریکړه کې چې د هغې پر بنست امریکا او نور افغانستان ته راغلي دي، ځای نه لري . د اوس مهال لپاره له امریکا او نورو لویدیځوالو څخه د افغانانو غوښتنه دا ده چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړو په چوکاټ کې چې هغه د ترهګرو ځپل او له منځه وړل دي او ادې یې د ډیورند کرښې پورې غاړه په پاکستان پرتې دي، خپل فعلیتونه متمرکز او متوجه کړي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ په کوم سرحد پریکړه نه ده شوې چې امریکا او یا بل کوم هیواد یې ومني او که داسې خبره احیاناً وړاندې کیږي ، دا به خپله لروبر افغانان په مناسب وخت کې، په ملګرو ملتونو او یا بل ځای اوبل ډول چې افغانان یې غواړي، طرحه کیږي . بلخوا د ډیورند کرښې په اړه پریکړه د افغان دولت ، د کوم افغان سیاسي تنظیم او ډلې واک نه دی، دا پریکړه به لروبر افغانان په ګډه ، هغه مهال او په داسې شرایطو کې کوي چې دوی یې مناسب بولي او له هرډول بهروني فشار او لاسوهنې څخه خوندي وي.
د ولسي جرګې غړي ښاغلي نذیر ځاځي د امریکا اشنا تلویزیون سره په مرکه کې نن د اکتوبر په ۲۴ مه، وویل چې د ډیورند کرښې په اړه پریکړه به کله چې وخت یې راشي یوازې د کرښې دواړه غاړه اافغان ولسونه کوي. امریکا باید د نورو ستونزو په حل کې افغانانو سره مرسته وکړي او داسې تازه ستونزې چې د افغانانو احساسات د امریکا پر ضد راوپاروي، رامنځته نه کړي.

لکه څنګه چې د انګلستان لومړي وزیر، دیویډ کامرون او د سکاټلنډ لومړي وزیر، الکس سلموند له انګلستان څخه په ۲۰۱۴ کال کې د سکاټلنډ د خپلواکۍ په اړه، د سکاټلنډیانو په ریفرانډم چې هلته به یوازې یوه پوښتنه کیږي او هغه دا چې سکاټلنډیان به خپلواک هیواد غواړي او که د انګلستان سره به په یوه هیواد کې پاتیږي، هوکړه لیک لاسلیک کړ، دغه شان به د ډیورند پر تپلي کرښه د ډیورند د دواړو غاړو افغان ولسونو په خوښه ریفرانډوم او یا بله ملي پریکړه، ترسره کیږي او هله به د ډیورنډکرښې برخلیک ټاکل کیږي.

افغانان د ډیورند کرښې په اړه د افغان دولت د بهرنیو چارو د وزارت د روستیو څرګندونو او ملي دریځ ننګه کوي او د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د استازي ګروسموسن او په کابل کې د امریکا د سفیر جیمز کنینګم، لمسوونکي څرګندوني چې ولسي او مشرانو جرګو، په سختو ټکو وغندلې او هغه یې د افغانستان په کورنیو چارو کې د امریکا بربنډه لاسوهنه وبلله ، د ملاتړ وړ بولي!
افغانان له امریکا څخه چې ستراتیژیک ټرون مو ورسره لاسلیک کړي، په کلکه غوښتنه کوو چې مورږ سره د ستونزو په حل کې مرسته وکړي، نه داچې مورږ ته نوې ستونزې وپنځوي او هغه دوستي چې تر اوسه په اومګړي تار ټرلې، په بې سرو پښو څرګندونو زیانمنه او داغلي کړي !

پای

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ